AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

شیر آقا حرکت ۲۰۱۱/۱۱/۲۹

# حقیقت تل مادي او قانونمند دې!

عیني واقعیتونه او ټولې پدیدې چې په عالم الاسباب کې د انسان او نورو مخلوقاتو لپاره مسخر او مقدر ګرځېدلې، همزمان او هم مکان لوی قانونمند حقیقت جوړوي او انسان د الاهي عالم با شعوره خلف مخلوق په حیث، ددې لپاره د نومړي لوی حقیقت په معرفت مکلف ګرځېدلی، ترڅوټول مادي نعمات، چې خدای د دغه لوی حقیقت په بنیاد شته کړي، د خدایي عدل، انصاف اوعامه پیرزوینې له مخې په ټولومخلوقاتو، دهغوی د ذاتي خلقتي خصوصیاتو او ضرورتونو په تناسب رواداري او پیرزوینه ولري. دغه مادي وجودي عیني واقعیتونه د کل او ځانګړو ماکره او میکره مادي واحدونو په حیث د همزمان او هم مکان نه شلیدونکي لحظوي او ابدي بدلیدونکو مناسبتونو او اړیکوسره واحد جهاني نظام جوړوي. دغه واحد نظام همزمان او هم مکان نوې او زوړ، متحرک او ساکن، ستاتیک او دینامیک او دېته ورته نور ډېر همزمان او هم مکان هر اړخیزه متضاد او موافق وضعیتونه، حالتونه، خواص او خصوصیات لري. له یوې خوا په لحظوي بدلیدونکي نظام کې قدیم هیڅکله نور په قدیم کې وجود نه لري او قدیم د نور له سرعت څخه هم په چټکۍ سره د ابد په لور ځغلي او حال ته د وخت په نوم هیڅ مقیاس څوک قایلیدلي نه شي، خوله بلې خوا په همغه قدیم کې ټول ماهیتونه او کیفیتونه دقانونمند بهیر په بڼه ساتلي پاتې دي او پوهان کولې شي د قانونمندو لارو په مختلو زماني او مکاني ابعادو کې لازمي او مطلوبې محاسبې، قانومندۍ، اعداد او ارقام تر لاسه کړي. حال هم د جهان د لحظوي بدلون په نسبت د هیچا په قابو او ګورت کې نه شي راتلای یا په بل عبارت حال عملاً وجود نه لري، خو له بلې خواد قدیم څخه تر ابده پورې ټول حقایق او واقعیتونه په ټولو ستاتیک ـ دینامیک بدلونونو اومختلفو کمي او کیفي واقعیتونو سره یواځې دحال دوضعیت، موقعیت، منفذ، مجرا او مقطع څخه څېړل کیدلې او ارزول کیدلې شي او پرته له دغه وضعیت څخه بل امکان هیڅ وجود نه لري. په ابدي نظام کې ابد هم هیڅکله ابد ته نه رسیږي ، خو د هر ابدعیني واقعیتونه د حال د څېړنو په بنیاد څېړل کیدلې او لازم نتایج تر لاسه کېدلې شي. نو ځکه ویلې شو، چې ددې جهان د څېړنې وړ واقعیتونه او لوی حقیقت یواځې همغه دې چې همدا اوس او په همدې لحظه کې وجود لري او بل هر واقعیت او حقیقت هم یواځې د حال له موجوده وضعیت څخه څېړل کیدلې شي. هغه کسان، چې هڅه کوي ددې جهان پیل او پای ولټوي او په دغه بنیادونو خپلې علمي ـ فلسفي څېړنې او ارزونې پیل او دوام ورکړي، دغه فکرونه یې بې بنیاده او څېړنې او ارزونې یې هیڅکله مثبتې پایلې او نتایج نه شي لرلې. هر وخت، چې مونږ غواړو د جهاني حقایقو، خلقتونو او پدیدو په اړه څېړنې او ارزونې سرته و رسوؤ، باید ټول پورتني معیارونه یعنې، چې جهان همزمان او هم مکان قانونمند مادي موجودیت لري، دا جهان همیشه د لحظوي تجدد په وضعیت کې دې او هره څېړنه او ارزونه هم یواځې د همدغه موجوده و ضعیت په بنیاد په نسبي لحاظ پیل کیدلې شي، چې له بده مرغه، په هیڅ یوه بشري علمي ـ فلسفي تیوریکي څېړنه او ارزونه کې، دغه شرایط په نظر کې نه دي نیول شوي او ځکه خو یې تیوریکو څېړنو او ارزوونو مثبتې پایلې او نتایج نه دي درلودلې. خو دا ټولې خبرې، هیڅکله دا معنا نه لري، هرجهاني موجوده وضعیت، چې په هره لحظه کې بد لیږي، کومې نښې نښانې او پل یې تر شا نه پاتیږي او موجوده وضعیت هم څرنګه چې په قابو او ګورت کې نه شي راتلای، نو علمي څېړنې او ارزونې ګوندې هم هیڅ ارزښت نه لري. مونږ دمخه وویل، چې جهان قانونمند پیدادې، قانونونمند پایي او قانونمند بدلون او پرمختیا مومي او دا جهان همداسې هم زمان او هم مکان زوړ او نوې، همزمان او هم مکان ستاتیک او دېنامیک ، . . . ، نو مونږ د همدغه قانونمندیو په بنیاد، خپلې څېړنې او ارزونې هر زماني او مکاني بعد ته غزولې او لازم څېړنیز نتایج او محاسباتي اعداد او ارقام تر لاسه کولې شو. د جهاني خلقت الاهي علمي قانونمندۍ د بشر لپاره د الاهي کلام په وسیله د پیغمبرانو (ع)په واسطه د بشر په ژبه د مشخصو او عامو احکامو، اصولو، اوامرو او نواهیو په بڼه د الاهي دین او شریعت له لارې رسیدلي او دانساني ذهني ـ شعوري مقدراتواو امکاناتو په کچه انساني ذهني خلف علم او یا په بل عبارت انساني ذهني فلسفي علم تشکیل شوې دې. په دې صورت کې مونږ په زغرده ویلې شو، چې: د فلسفي علمي څېړنو موضوع او هدف همدادې ، چې د جهاني خلقت د پیدایښت، پایښت، بدلون او پر مختیا قوانین او قانونمندۍ وپیژني او د خپلو مقدراتو په کچه ددغه پیدایښت، پایښت، بدلون او پرمختیاپه کمیت او کیفیت کې، د خپلو ضرورتونو، مجبوریتونو او غوښتنو سره سم په ترکیبي او تجزیوي جوړښتونو کې بدلونونه راولي او د ځان او نورو د استفادې وړ یې وګرځوي. نه دا لکه، د رادا کرشنان په مشرۍ، چې د هندد فیلسوفانو شپیته کسیزي کمیټې، د فلسفي موضوع ، ددې جهان د اغاز پیدا کول ګڼلې ده!

فلسفه دانساني مقدراتو، امکاناتو او نیمګړتیاوؤ په تناسب د الاهي او قرآني علومو سره د انساني خلافت مناسبت لري او دهمدغه خلافت د عظمت د مقدراتوپه کچه، الاهي علم افاده کولې شي. فلسفه دډېرو تورونو او ناروا تهمتونو سره سره بیا هم په تیرو فلسفي فورمولبندیو کې د مادې، شعور او ټولنې د عامو قانونمندیو علم ګڼل شوې دې. زه په دې عقیده یم،


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چې ماده، شعور او ټولنه ذاتي توپیر نه لري اولکه څرنګه چې، عالم الاسباب، د الاهي واحد علم د قانونمندیو تابع ګڼل کیږي او ټولې قانونمندې پروسې د متداخلو انتګرالي او دیفرنسیالي حرکتونو او انتګرالي او دیفرنسیالي بې شمیره معادلو په واسطه داسې افاده کیږي، چې هیڅ متوالي، نامعین، لا یتناهي، مهمل، نا مفهوم او دېته ورته اعداد، ارقام مفاهیم په کې نه شي په سترګو کیدلې، فلسفه هم د انساني مقدرات او خلافت د عظمت په تناسب، د الاهي علم بشري ذهني واحد خلف علم ګڼل کیږي. نو ځکه دا خبره نه کومه معما، نه کوم پټ راز او نه کوم بې علته معلول دی، چې ګوندې څوک دې پرې پوه نه شي، چې ولې تر اوسه پورې په فلسفي علم مخامخ څوک نه دي ورغلي او نن هم څوک د دې کار جرئت نه لري؟
هو! بې له شکه، چې فلسفه اسان علم نه دی. د ټول جهان د قانونمند تحرک او تعامل، په واحد انتګرېشن او دیفرنسییشن کې څیړل خو لا په ځای پرېږده، چې د یوې واحدې قضیې او مسئلې قانونمند انتګرالي او دیفرنسیالي تداخل څیړل، حتا په پرنسیب کې ناشونې کار ګڼل کیږي او په ځانګړو حالاتو کې به شاید ورته ضرورت هم نه وي. همدا سبب دی، چې ځیني الاهي احکام، لکه دجهان پیدایښت، قدامت اوابدیت، دعالم آمر په شکل، چې زماني اومکاني قیوداتو او تأجیل پورې اړه لري اویا لکه الاهي ذاتي پېژندنه، چې د ناممکناتو څخه ګڼل کیږي. لکن د دې ټولو خبرو سره سره دغه هر څه، د یوه لوی حقیقت او یا د عیني واقعیتونو په بڼه وجود لري او حتماً په الاهي او قرآني علم کې یا د عالم خلقت او یا د عالم آمر په بڼه د هغې ذکر شوې او عملاً د الاهي علم له مخې د هغې قانونمندي وجود لري او ما په ځیني د دغه مسایلو د «عینیت فلسفه، څیړنې او ارزونې،( فلسفه په مادي قدامت، حال او ابدیت کې، ۳۴۴ مخ) » او نورو موضوعاتو کې پرې بحث کړې دی. نو ځکه مونږ نه شو کولې په دغه حقایقو او عیني واقعیتونو سترګې پټې کړو. ما په خپلو څیړنو او ارزونو کې د هغې د پوهې، باور او یقین لپاره تر وسه پورې کافي ثبوتي او علمي قیاسي او اسقرایي دلایل وړاندې کړي دي.
حقیقت، مادیت او علمیت یو تر بله سره لازم وملزوم او نه بیلیدونکې پدیدې دي، یو تر بله سره په مناسبت او ارتباط کې څیړل کیدلې، ارزول کیدلې او یواځې په همدغه ارګانیکه بڼه او مناسبتونو سره، له څیړنیزوموضوعاتي قضایاوؤ او مسایلو څخه سم او رښتیني څیړنیز حقایق او نتایج تر لاسه کېدلې شي.
دا جهان د« کن فیکون » الاهي حکم له مخې ازلي، ابدي او قانونمند پیدا دی، قانونمندي یواځیني لازمي شکل د موجودیت ددې لوی جهان او هر وجود ګڼل کیږي اوغیر قانونمندموجود اصلاً وجود نه شي لرلې. څرنګه، چې هرخلقت یواځې خدایي اوپرته له الله بل خالق وجود نه لري. نو هغه علم، چې دا لوی جهان یې په بنیاد، قانونمند پیدا، قانونمند پایي او قانونمند بدلون او تکامل مومي، هم یواځې خدایي خلقت ګڼل کیږي او انسان یواځې کولې شي ددغه علم په قانونمندیو معرفت حاصل او دخپلې استفادې وړ وګرځوي. ددې جهان د پدیدو او خلقتونو سره غیر علمي کړه وړه هم ناسم، غیر عملي، نا ممکن او بې نتیجې ګڼل کیږي. انسان هم یواځې د کافي علمي استعداد لرلو او یو بل ته د هغې د انتقال د امکاناتو په نسبت، په دې جهان کې، د الا هي اکرم خلف مخلوق په حیث منل شوې او ددغه خلافت رسالت ، رهبري او عملي کول هم یواځې د انساني مخلوق په عالم قشر پورې اړه لري .یواځې عالم انسان دی، چې دخدایي علم د معرفت استعدادلري اودمادي نعمتونو څخه د پوره او سالمې ګټې پورته کونې په منظور د ټولو خلقتونو په معرفت مؤظف او مکلف ګرځېدلې دي. هیڅ انسان د هیڅ یوه علم او قانونمندۍ خالق نه دی. هره قانونمندي په ازلي ډول د هر خلقت او پدیدې د مادي کمي او کیفي جو ړښت سره، همزمان اوهم مکان لا یتجزا ارګانیک تناسبونه جوړوي.
تخیلي حقایق او تخیلي انساني علوم وجود نه لري او نه کله انسان، حتا دخورا کوچني علمي حقیقت خالق ګڼل کیدې شي .
انسان یواځې کولې شي د الاهي علمي حقایقو په بنیاد علمي پدیدې ایجاد او داستفادې وړ وګرځوي.
هر څوک په دې پوره باور لري، چې خدای تر هر څه لوی ذاتي حقیقت دی، چې هیڅکله د انسان په شعور کې نه ځاییږي. نو ځکه انسان د تل لپاره د خدای د پیژندنې او توصیف څخه عاجز دی او یواځې د ډیرو خارق العاده عېني شواهدو له مخې باید انسان پرخپل خدای یقین، ایمان او عقیده ولري. د خدای علم هم لوی او بې ساري دی او انسان یواځې د خپلو مقدراتو په کچه هغه خپلولې شي. همغسې چې خدای واحد دی علم او جهان یې هم واحد دی. ځانګړي علوم په حقیقت کې هیڅ وجود نه لري او هر ډول ویش او دیفرنسییشن په هغې کې پرته له دې چې د انسان په شعوري او علمي بیوسۍ او نقصان دلا لت وکړي بله معنا او افاده نه لري. څرنګه چې الاهي علم د انسان لپاره محاط علم نه ګڼل کیږي او دانسان لپاره په اصطلاح باب دندان ځانګړي علوم هم وچود نه لري، نود بشر لپاره مقدر علمي امکانات، څه ډول توضیح کېدلې شي؟ همغسې، چې الاهي علم د انساني مقدراتو څخه ډیر ژور، لوړ او فراخ دی، دالاهي علم انساني خلف علم، چې اصطلاحاً د لاتیني مرکبې کلمې « Phileosophia » په واسطه افاده او د میلاد څخه ۶۰۰ کاله دمخه دغه اصطلاح د لومړي ځل لپاره د فیثاغورث په واسطه استعمال او وروسته د افلاطون په واسطه د فلسفي علم د افادې اصطلاحي قایم مقام جوړ شو، چې مادي، شعوري او ټولنیز عام قوانین څیړي، نو د هربې علمه او عالم انسان لپاره نژدې یوشان غیر محاط فکري علم ګڼلې شو.
هو ! فلسفه په انساني کچه الاهي خلف علم دی، ځکه چې خدای په خپل کلام کې د انسان څخه د خپل خلیفه په حیث ذکر کړې دی، خودا هیڅکله ددې معنا نه لري، چې ګوندې، حتاهر عالم دې په الاهي علم او یا دالاهي علم د ځای ناستي علم، فلسفې پر ټولو موضوعاتو باندې پوه شي. په فلسفه پوهېدل، په حقیقت کې، څه ناڅه په ټولو علومو د پوهېدلو په


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

معنا دي. همدا سبب دې، چې د بشريت په تاريخ کې مشکله ده داسې عالم څوک پيدا کړې شي، چې په فلسفه دې مخامخ ورغلې اوسي او يادې د نيمګړتياوو او اشتباهاتو پرته کومه جامع منلې علمي فلسفي فورمولبندي مونږ ته په ميراث پرېښې اوسي. په حقيقت کې ډېرې پوهان، څرنګه چې په فلسفي عالي او هر اړخيز ګلوبال علمي انتګرېشن باندې يې فکر نه رسيږي، اسانه ورته دا ښکاري، چې د فلسفې د علميت څخه منکر شي. په دې مسئله د « عينيت فلسفه، څېړنې او ارزونې »( ډاکټر حرکت، ۲۰۱۱م) کې پوره بحث شوې دې. په دې ځای کې دومره ويل غواړم، چې: (۱) فلسفه په کل کې د علم لپاره او بالخصوص د الاهي علم لپاره اسم با مسمی نه، بلکه يوه اصطلاحي افاده ګڼل کيږي او هغه هم ډير وروسته دغه افادې رواج پېدا کړ؛ (۲) که ژبني کلماتو او اصطلاحاتو ته هم زير شو اکثره کلمات معنا داره نه دي او لکه په اروا پېژندنه (روان شناسی) کې چې شرطي غير مفهوم ريفلکسونه، چې روسي مشهورو اروا پيژندونکو «پاولوف» او « سيچينوف » په حيواناتو باندې د روشنی او غږ په ذرېعه تجربه کړي وؤ، په معنا داره مفهوم بدل شوې وؤ، ژبنی غير مفهوم افادې هم ددوام داره استعمال په ترڅ کې د انسانانو لپاره په معنا داره مفاهيمو اووختې دي؛ (۳) په اکثره اديانو کې فلسفې، غير ديني(الحادي) دريز درلوده، نو ځکه د هر چا له خواپه اسانی سره د هر ډول سم او نا سم تهمت سزاواره ګڼل کيدې شوه؛ (۴) تر هر څه مهم د فلسفي علم هر اړخيز ګلوبال انتګرالي او دېفرنسيالي اړيکي او مناسبتونه دي، چې په فلسفي علم پوهاوې يې د هر چا لپاره مشکل ګرځولې دې؛ (۵)په تېرو بحثونو کې، سره ددې، چې پوره تأکيد شوې دې، يو ځل بيا تکرارول غواړم، چې دين او علم يو ډول معرفت او يا په بل عبارت علم دين او دين علم دې او فلسفه، چې د الاهي علم انساني ذهني خلف علم ګڼل کيږي، څه ډول د ځيني پوهانو په آند غير علمي پديده او خلقت ګڼل کېدې شي؟ په پای بايد ووايم، چې د فلسفي علم موضوع او دڅېړ نو او ارزونو طريقه يواځې همدغه ده، چې پورته درنو لوستونکو او پوهانو ته وړاندې شوه. زه د خپلو دوستانو او پوهانو په مټ دپورتنی ليکنې مسئوليت په غاړه اخلم او د فلسفي موضوعاتو او مسايلو د څيړنو لپاره دغه شرايط يواځينی لار او امکانات بولم. تخيلي او غير مستند، غير قانونمنددلايل، افادې، منطق او فورمولبندئ په دغه ډول علمي مسايلو کې ځای او ګنجايش نه لري.
د محترمو پوهانو څخه هيله کوم، چې په پورتني عباراتو او مفاهيمو کې زمادنيمګړتياوؤ، سهوؤ اوخطاوؤپه اصلاح کې مرسته ونه سپموي او خپلې نيوکې لطفاً د ای ـ ميل له لار ې راواستوي . مننه

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ